ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

ګڼه ۳۴

نېټه: شنبه، جمادی الثانی ۳۰ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه کې چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، د شاوخوا ۱۰ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۴ بېلابېلې پروژې منظورې شوې. په منظور شوو پروژو کې د پارنده پنجشیر د مایکرو هایدل برېښنا بند جوړولو، د زابل ولایت کې د توري بند د پاتې چارو بشپړولو، په کابل ښار کې د ځینو مهم سړکونو اساسي جوړونې، په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د برېښنا رسولو، پر ښارونو سربېره په لرې پرتو سیمو کې هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نورې پروژې شاملې وې.

ددې له پاره چې هم ژوند پرمخ ولاړ شي، صنعت وده، کرنه پراختیا، برېښنا تولید او سېلابونه مهار شي؛ نو هر هېواد هڅه کوي چې خپلې اوبه هغه ډول مدیریت کړي چې ښځه په کار ده. افغانستان د طبیعي اوبو پرېمانه سرچینې لري. دا سرچینې که په سم ډول مدیریت شي، ددې جوګه دي چې د افغانستان مېلیونونه هکتاره شاړې دښتې په کرنیزو ځمکو بدلې، په کافي اندازه برېښنا تولید او صنعت ته وده ورکړي. خو مسله داده چې په تېر کې دې برخې ته چندان پاملرنه نه ده شوې او نه د اوبو د مدیریت له پاره کوټلي ګامونه پورته شوي دي. که دا چاره ترسره شوې وای، اوس به افغانستان د کرنې او برېښنا په برخه کې پر ځان بسیا او صنعت به یې غوړېدلی وای. د اسلامي امارت په راتګ سره د اوبو د مدیریت په برخه کې کار شوی، چې د بېلګې په ډول یې د قوش تېپې کانال، د کجکي دوهم فاز، د بخش اباد بند، د کمال خان بند پاتې چارو بشپړېدل او داسې نور یادولی شو. د پارنده پنجشیر مایکرو هایدل او توري بندونو جوړولو له پاره د بودیجې ځانګړي کول هغه څه دي چې پر مټ به یې له یوه لوري زرګونه هکتاره شاړې دښتې په کرنیزو ځمکو بدلې او تر څنګ به یې د هېواد د برېښنا د کموالي ستونزه تر یوه بریده هواره شي.

د ملي تدارکاتو په غونډه کې بله مهمه موضوع د سړکونو جوړول او د باکیفیته انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول دي. له دې برخو څخه د ښاري سړکونو موضوع ځکه مهمه ده چې په ښارونو کې د سړکونو جوړول له یوې خوا د ښاري ګڼې ګوڼې مخه نیسي او له بل لوري ښارونه چې د هېوادونو د سوداګریزو او اقتصادي فعالیتونو مرکزونه دي، باید زېربناوې یې جوړې شي. ددې ترڅنګ د انټرنیټ موضوع هم د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې یوه مهم برخه ده او نن سبا د همدې انټرنېټ له برکته نړۍ د یوه کلي بڼه خپله کړې ده. اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو دې برخو ته بودیجه ځانګړې کړه او هڅه کوي چې په دې برخو کې شته ستونزو ته پای ورکړي او پر مټ یې د هېواد صنعت او زراعت پراخ، اقتصاد پیاوړی او هېواد د پرمختګ په لور بوځي.

# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د جدي میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د ټاکل شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د افغانستان اوسپنې پټلۍ اداره دې له هرات څخه تر تورغونډۍ او اندخوی څخه تر مزارشریف پورې د اوسپنې پټلۍ شبکو کارونه بشپړ کړي او یادې ادارې ته دنده وسپارل شوه تر څو له هرات څخه د کندهار تر سپین بولدک پورې د اوسپنې پټلۍ غځولو هر اړخیز پلان چمتو او له وړاندیزونو سره یې د اقتصادي معاونیت مقام ته وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون د ګډونوالو په وینا؛ د یادو شبکو په بشپړېدو سره به د افغانستان او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچه زیاته او په دې برخه کې به ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي.

په دغه ناسته کې له فتحې مخکې پر دولتي ادارو د قراردادي شرکتونو د پاتې تضمیناتو، تامیناتو او طلباتو د لس سلنې د ورکړې په اړه د مالیې وزارت له لوري د تثبیت اړوند کړنې تأیید شوې.

د اقتصادي کمېسيون په ياده نوبتي غونډه کې د ټاپ پروژې سکرتريت جوړېدل منظور او د تشکيل په موخه د تشکيلاتو او معاشاتو کمېسيون ته راجع شو. د ټاپ پروژې سکرتريت د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ له اړوندو سکټوري وزارتونو څخه جوړ دی، چې د يادې پروژې تخنيکي او حقوقي چارې به پر مخ بيايي.

په دغه غونډه کې د افغانستان علومو اکاډمۍ له لوري د چرګانو د ذبحې په موخه جوړ شوی لارښود د خوړو او درملو ملي اداري د وړاندېزونو په نظر کې نيولو سره تاييد شو او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف وبلل شو چې ياد لارښود په جديت سره تطبيق کړي.

د غونډې په پای کې تر هراړخيزې ارزونې وروسته افغان پُست شرکت ته په ترانزيټي وسايطو کې د GPS نصبولو قرارداد ورکړل شو او دغه شرکت مکلف وبلل شو څو د يوې مياشتې په جريان کې د يادي موضوع په اړه خپل راپور له اقتصادي کمېسيون سره شريک کړي. د يادونې وړ ده چې د دغه قرارداد له مخې افغان پُست شرکت پر هر ترانزيټي موټر د ۴۱ ډالرو فيس په مقابل کې GPS نصبوي



# د ملي تدارکاتو کمېسيون له لوري د شاوخوا ۱۰ميلياره افغانيو په ارزښت ۲۴ بېلابېلې پروژې منظورې شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۱۹مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجندا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو. د ملي تدارکاتو کمېسيون يادې غونډې ته ۲۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې يې د ۲۴ پروژو قراردادونه منظور او د ۳ پروژو د قراردادونو د ارزونې په موخه ملي تدارکاتو رياست او اړوندو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، څو دغه قراردادونه په هراړخيز ډول وڅېړي او راپور يې د ملي تدارکاتو کمېسيون له مشرتابه سره شريک کړي.

منظور شوې پروژې د ملي دفاع، کورنيو چارو، ټولګټو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، عامې روغتيا، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولېز ارزښت يې شاوخوا ۱۰ ميلياره افغانيو ته رسېږي.

په يادو منظور شوو پروژو کې د پارنده پنجشير د مايکرو هايډل برېښنا بند جوړولو، زابل ولايت کې د توري بند پاټي چارو بشپړولو، په کابل ښار کې د ځينو مهم سړکونو اساسي جوړونې، په مختلفو ولايتونو کې هېوادوالو ته د برېښنا رسولو، پر ښارونو سربېره په لرې پرتو سيمو کې هېوادوالو ته د باکيفيته او چټکو انټرنېټي خدمتونو وړاندې کول او يوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلي کېدو سره به يې زرګونو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابر شي.





# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارزګان ولايت له علماوو او قومي مشرانو سره په ليدنه کې د هغوی ستونزې واورېدې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۱۶مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ارزګان ولايت له علماوو او قومي مشرانو سره په ليدنه کې د هغوی ستونزې واورېدې.

د ارزګان ولايت علماوو او قومي مشرانو په هېواد کې د راغلي امنيت ستاينه وکړه او زياته يې کړه چې د ارزګان ولس په خپل ټول توان سره په هر حالت کې د افغانستان اسلامي امارت څخه اطاعت او ملاتړ کوي.

د ارزګان ولايت استازو له مرکز ترينکوټ څخه ولسواليو ته د غځېدلو سړکونو د بيارغولو، د څښاک پاکو اوبو چمتو کولو او همدارنګه د چک ډيمونو جوړولو ترڅنګ ځينې نورې ستونزې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سره شريکې کړې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د شل کلن اشغال د ختم او د اسلامي نظام راتلو لپاره د ارزګان ولايت اوسېدونکو او مجاهدينو قرباني بې سارې وبللې او زياته يې کړه، د الله تعالی په نصرت سره اوسمهال په



افغانستان کې يو خپلواک اسلامي نظام حاکم دی، چې ټول افغانان يې تر حاکميت لاندې په ارامۍ سره ژوند کوي.

محترم ملا صاحب وويل، اوسمهال په هېواد کې په بېلابېلو برخو کې د بيارغونې او ابادی کارونه پيل شوي او د پخوا په پرتله هېوادوال ته د ژوند ډېرې اسانتياوې برابرې شوي دي. د محترم ملا صاحب په خبره، اسلامي امارت ته ډېرې ستونزې په ميراث پاتې دي، چې د ټولو حل کول وخت او امکاناتو ته اړتيا لري او اسلامي امارت له خپل ولس سره ژمنه کوي، چې د دوی لومړيتوبونو ته په کتو سره به په تدريج سره ټولې ستونزې حل کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ارزګان ولايت علماوو او قومي مخورو ته ډاډ ورکړ، چې له مرکز ترينکوټ څخه ولسواليو ته د غځېدلو سړکونو، د څنباک پاکو اوبو او همدارنګه د چک ډيمونو جوړولو په برخه کې به خپلو امکاناتو ته په کتو اقدام وکړي.



## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجندا سره سم د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه هراړخيز بحث وشو. يادې ناستې ته د خصوصي سکټور له لوري په مزارشريف ښار کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ او د کابل ښار د ثلورمې ناحيې اړوند تايمنې سيمه کې د راه ابريشم هستوګنيز او سوداګريز ښارګوټي د جوړولو طرحې وړاندې شوې. تر مفصل بحث وروسته ټاکل شويو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو طرحو تخنيکي او اقتصادي ارزونه ترسره او راپور يې د پانګونې بين الوزارتي کمېټې راتلونکې ناستې ته وړاندې کړي. دغه راز يادې ناستې ته په کوټې سنګي سيمه کې د ملت سوداګريز مارکېټ او د هلمند ولايت په لښکرګاه ښار کې د سوداګريز مرکز او هستوګنيزو اپارتمانونو جوړولو طرحو د ارزونې لپاره د ټاکل شوو کمېټو له لوري راپورونه وړاندې شول، چې تر مفصل بحث وروسته د يادو مارکېټونو د جوړولو طرحې تائيد او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسيون ته واستول شوې.



## په کابل ښار کې تر اوسه پورې ۴۸۳۷۳ سوالګر راټول شوي دي

د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري د روان ۱۴۰۲ لمريز کال د جدي مياشتې تر ۱۷مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سيمو ۴۸۳۷۳سوالګر راټول شوي او دا لړۍ ادامه لري.

تر دې دمه پورې په راټولو شويو سوالګرو کې ۱۴۸۳۳ښځينه، ۷۶۳۵نارينه او پاتې ۲۵۹۰۵ ماشومان دي. له مستحقو سوالګرو سره د افغانستان اسلامي امارت له لوري دوامداره نغده مرسته کيږي او بې سرپرسته سوالګر ماشومان له بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخليږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه برابريږي.



# مروری بر فعالیت
# فابریکه نساجی افغان پلخمری

نویسنده: هدایت الله واحدی



**مقدمه**

تردیدی نیست که امروزه در همه جوامع بشری، تولید از اهمیت خاصی برخوردار است و تمامی افراد جامعه به جایگاه و اهمیت آن واقفند، یکی از ارکان مهم در هر اقتصاد بخش صنعت می باشد که اهمیت بسزای در رشد اقتصادی داراست و در کشور ما، بخش صنعت در کنار سایر بخش ها یکی از عوامل مهم توسعه به شمار می رود. موجودیت تصدی‌ها، شرکت‌ها و کارخانه ها بخشی از بیکاری و فقر را در هر کشور کاهش می‌دهد. علاوه از آن، عواید فابریکه‌ها و شرکت‌ها در چرخ اقتصاد کشور و عواید دولت نقش برازنده دارد و می‌تواند یکی از منابع مهم عواید حکومت به شمار رود. با توجه به این اهمیت امارت اسلامی در کنار سایر عرصه ها بخش صنعت را نیز در اولویت های خود قرارداده و در این راستا روز تا روز به بازسازی فابریکه های تولیدی، پارک های صنعتی و سایر این امور می پردازد که در نوشته حاضر پیرامون تاریخچه، بازسازی و آغاز کار مجدد فابریکه نساجی پلخمری و اهمیت تولیدات در جامعه نکاتی را جهت ارضای حس کنجکاوی علاقمندان به رشته تحریر در آورده ایم.

## پس منظر فابریکه نساجی افغان پلخمری

فابریکه نساجی افغان پلخمری در سال ۱۳۱۵ هجری شمسی به ابتکار مرحوم عبدالمجید خان زابلی در وادی پلخمری تهداب‌گذاری گردیده و در سال ۱۳۲۱ کار ساختمانی آن به شمول بند برق نمبر اول تکمیل و به فعالیت تولیدی آغاز نمود. ابتداء در این فابریکه به تعداد ۵۵۰ پایه ماشین های بافت با ملحقات آن به فعالیت آغاز و بعداً بخاطر رشد و ارتقای سطح تولید بنابر تقاضا و نیازمندی شهروندان کشور در سال های ۱۳۳۰ تا به۱۳۴۰ از کمپنی های جرمنی و روسی به ترتیب تعداد ۳۰۳ پایه ماشین بافت اتومات جرمنی و ۱۸۴ پایه ماشین بافت اتومات روسی نیز با ملحقات و ماشین آلات کمکی بخشهای نخ ریسی نیز در این فابریکه نصب و تعداد مجموعی ماشینهای بافت به تعداد ۱۰۱۷ پایه ارتقا داده شد. همچنان ماشین های بخش نختابی به تعداد ۱۵۵ پایه با ملحقات و ملزمات آن نصب گردید. تولیدات فابریکه تا قبل از سال ۱۳۵۸ با تشکیل بیشتر از سه هزار نفر کارگر در سه شفت روزانه تا مرز یکصد هزار متر پارچه، رشد صعودی داشته و تولیدات آن علاوه از اینکه نیازمندی شهروندان پلخمری و ولایت بغلان را تأمین می نمود یک مقدار زیادی آن جهت پروسس به فابریکه نساجی گلبهار ارسال می گردید و بعد از سفید کاری و رنگ آمیزی یکجا با تولیدات فابریکه گلبهار وجبل السراج به مغازه های فروش منسوجات در تمامی ولایات کشور انتقال و بفروش رسانیده میشد. همچنان البسه و سایر ضروریات قوای مسلح کشور و وزارت صحت عامه از منسوجات تولیدی فابریکه نساجی پلخمری در بدل عقد قرارداد تهیه می گردید. باید متذکر شد که فابریکه نساجی پلخمری طوری طراحی و دیزاین گردیده تا همه امکانات یک کمپلکس تولیدی در آن موجود باشد، چنانچه درکنار این فابریکه یک دستگاه بند برق دارای سه توربین مولد برق نیز وجود دارد که در اوایل به ظرفیت مجموعی ۴۸۰۰ کیلو وات برق فی ساعت تولید می نمود، شفاخانه یکصد بستر در سال ۱۳۳۰ در مربوطات ساحه این فابریکه اعمار گردیده، جای خاص بخاطر پذیرایی مهمانان در مساحت ۱٦جریب زمین در دو طبقه در نظر گرفته شده بود که کار ساختمانی آن در سال ۱۳۳۵ تکمیل گردید. همچنان این کمپلکس دارای ۱۱۴ جریب زمین زراعتی آبی، ۸ جریب زمین ناک باغ و٦۰جریب زمین که مکان تفریحی برای مشهریان پلخمری می باشد بوده و ضمناً به تعداد ۱۰۲۷ در بند حویلی رهایشی برای سکونت کارکنان و یک گنبد حمام نیز مربوط این فابریکه می باشد. ولی به اثر عوامل مختلف و بی توجهی اداره قبلی در سال ۱۳۹۷ به رکود مواجه شد.



## امارت اسلامی و بازسازی فابریکه نساجی افغان پلخمری

امارت اسلامی افغانستان با تعقیب پالیسی اقتصاد محور سعی می کند تا جهت رشد و توسعه اقتصادی کشور در همه ابعاد و بهبود زنده‌گی مردم کار نماید و به این هدفمندی دست به بازسازی زیربنا ها و تأسیسات زده است که سبب رونق اقتصادی کشور گردد که از آن جمله یکی هم فابریکه نساجی پلخمری است که با رکود و سقوط مواجه بود. امور بازسازی این فابریکه یکسال قبل آغاز گردید که در بازسازی آن ۳۵۰ تن که همه کارمندان فنی و مسلکی به شمول مهاجرین برگشت شده از کشور های همسایه بودند سهم داشتند، آغاز و در قوس ۱۴۰۲ کار بازسازی آن تکمیل گردید به گفته مسؤلان، فابریکات نساجی در بلند بردن اقتصاد کشور از۲۰ الی ۳۰ فیصد نقش داشته و در فابریکه نساجی پلخمری برای تعدادی از هموطنان ما زمینه کار به صورت مستقیم مساعد گردیده است. این

فابریکه اکنون با تجهیزات عصری مجهز گردیده است. امور ترمیم فابریکه نساجی پلخمری که در مدت یک سال تکمیل گردیده و از دو ماه به این طرف عملاً در بخش تولیدات رخت، ململ، ریسمان، یونیفورم نظامی و ... فعالیت دارد، که برای حدود ۴۰۰ تن تا اکنون زمینه کار را مساعد گردیده است که با انکشاف بیشتر این کارخانه به تعداد کارگران و افراد فنی آن فزوده خواهد شد.

به همین ارتباط محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء هنگام سفر خویش به صفحات شمال به ولایت بغلان نیز رفته و از فابریکه نساجی پلخمری و قند بغلان دیدن نمودند. محترم ملا صاحب ترمیم ماشین های فابریکه های مذکور و آغاز فعالیت آنها را در بخش صنعت یک دستاورد خوب توصیف نموده و برای مسئولین در جهت بهبود امور و افزایش سطح تولید هدایات لازم ارایه نمود. قابل یاد آوریست که با انکشاف و تجهیز بیشتر این کارخانه تولیدات منسوجات افزایش خواهد یافت که با آن نیاز مندی های البسه و سایر ضروریات مرتبط به آن ادارات دولتی و مردم تا اندازه‌ای مرفع می گردد که موازی به آن عواید از بابت تولیدات به خزانه حکومت جمع می شود و از سوی دیگر با استخدام کارگران و افراد فنی مشکلات اقتصادی شماری از شهروندان ما حل می گردد که این خود در وضعیت اقتصادی عمومی کشور تاثیرات مثبت دارد.



## اهمیت تولیدات

موضوع اقتصاد باید در اولویت کار قرار گیرد. با توجه به این که مسایل توسعه و نیل به پیشرفت، یکی از اهداف اساسی جوامع کنونی است، لزوم حمایت از تولید، اعتدال در مصرف و شکوفایی اقتصاد کشور، بیش از پیش احساس می‌گردد. حمایت از تولیدات داخلی و آموزش افراد به رعایت الگوی مصرف، پیامدهای متعددی در جامعه دارد که به رشد اقتصادی، اشتغال‌زایی و رفع بی کاری، افزایش عواید، شکوفایی استعداد های داخلی، رشد تجارت، پیشرفت صنایع و فابریکات و بسیاری از نتایج مفید اجتماعی و اقتصادی که در نهایت به توسعه پایدار و طولانی‌مدت منجر می‌گردد. زیرا یکی از لوازم توسعه پایدار رشد تولید داخلی و تبدیل آن به کالا و محصولات با کیفیت جهت مصارف داخلی است. بعد از تأمین نیاز ها و احتیاجات ملی، تولیدات جهت صادرات به دیگر کشور ها عرضه می‌شود و گسترش صادرات و تجارت در عرصۀ اقتصادی به یک اقتصاد خودکفا به خود مبدل می‌سازد. تولید، از اصطلاحات علم اقتصاد، به معنی تهیه کالا و خدمات مورد نیاز با استفاده از منابع و امکانات موجود است. فعالیت تولیدی سلسله اقداماتی است که برای تبدیل منابع به کالاهای مورد نیاز صورت می‌گیرد. در اقتصاد، خلق مطلوبیت از طریق فعالیت انسانی ارزش بسزای دارد. تولید از نظر علم اقتصاد، در بردارنده تولید اشیا توسط انسان نیز است؛ ولی شامل دیگر فعالیت‌های خدماتی چون حفاظت و نگهداری، پاکیزه‌سازی و ... هم می‌شود. تولیدات داخلی اثرات نهایت مثبتی در شکوفایی اقتصادی جوامع داشته چنانچه حرکت به سوی استقلال و خودکفایی و رهایی از وابسته‌گی‌ها، مستحکم کردن اقتصاد داخلی و شکوفایی آن، افزایش در عواید ملی، افزایش صادرات وکاهش واردات از مزایایی آن می باشد.



## نتیجه گیری

از موضوعاتو که پیرامون اهمیت تولید، بازسازی و عمران کارخانه ها به ویژه بهره برداری از فابریکه نساجی پلخمری گفته شد بر میاید که موجودیت تصدی‌ها و شرکت‌ها بخشی از بیکاری و فقر را در هر کشور کاهش می‌دهد. افزون بر آن، عواید فابریکه‌ها و شرکت‌ها در چرخش اقتصاد کشور و عواید دولت نقش برازنده دارد و می‌تواند یکی از منابع مهم عواید دولت به شمار برود، که امارت اسلامی با در نظرداشت این اهم دست به بازسازی و تأسیس زیربنا ها زده که در این راستا به طور خستگی ناپذیر در پی کار است که یکی از نمونه های آن همین بازسازی فابریکه نساجی افغان پلخمری می باشد، که از بابت تولیدات آن قسماً نیازمندیها ادارات امارتی به ویژه در بخش یونیفورم نظامی و سایر منسوجات تولیدی در این کارخانه مرفوع می شود، همچنان برخی از نیازمندی افراد جامعه نیز به قیمت مناسب تأمین و شماری از شهروندان ما در آن مصروف کار اند و در آینده با انکشاف و ازدیاد سایر ماشین های تولیدی زمینه اشتغال بیشتری برای هموطنان ما فراهم می شود و از سوی دیگر عواید هنگفتی در خزانه حکومت جمع آوری می شود.